آصف بهاند/ مختصات افغانستان، بخش: شعرا ، نویسندگان و هنرمندان ۱۱/۰۷/۲۰۲۳

# د افغانستان په لوی قاموس کې

## د نوموتي سندر غاړي عبدالله مقری ژوند لیک



د زمانو سندر غاړي عبدالله مقری ټول عمر د وطن او خلکو د دردونو او تیونو ناري تر خپلو هېوادوالو پوري ورسولې او د خلکو د زړونو د یو رسا غږ په توګه، مستقیم او رسا له خلکو سره د خپل هنر په وسیله ودرید، د شعر او موسیقي په ژبه یې د خلکو او وطن غږ داسي جګ کړ چې په اورېدلو یې د هرچا له سترګو څخه اوښکي بهېدې. دی هم په هېواد کې دننه او هم په بهر کې د یو بلبل په توګه وچغید او د عمر تر پایه له وطن سره د مینې پر هوډ باندې ټینګ ودرېد او له خلکو سره پاتې شو.

عبدالله مقری د غزني ولایت په مقر ولسوالۍ کې زېږېدلی، سندرې ویل یې په ۱۳۵۷ ـ ۱۳۵۸ کال پیل کړي دي. په لومړي سر کې یې کورنۍ له سندرو ویلو سره مخالفت کاوه، خو له دې مخالفت سره ـ سره ده د سندرو لاره پرېنښوده.

د عبدالله مقري تر مړیني څو ورځي وروسته، د ده دا بیوګرافي په میډیا کې په مخه راغله چې بیا د دې مقالې تر خپرېدو وروسته ما وراضافه کړه:

«د هیواد حماسي شاعر، لیکوال عبدالله مقری د مولوی عبدالوهاب زوی د ۱۳۳۲ هجري لمریز کال د غویي( ثور) میاشتې ۲۸ د غزني ولایت د مقر ولسوالۍ په کوچال کلي کې په یوه دینداره کورنۍ کې دې دنیا ته سترګې وغړولې.

لومړنۍ زده کړې یې په دیني برخه کې د خپلې سیمې اړوند مدرسه کې ترسره، وروسته بیا د منځنیو زده کړو په موخه کندهار ولایت ته ولاړ او د منځنیو زده کړو تر بشپړولو وروسته په کابل کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت کې یې رسمي دنده پیل کړه.

ارواښاد عبدالله مقري د هغې لیونی مینې له وجې چې له خپل هیواد او خلکو سره یې لرله، د رسمي دندې ترڅنګ حماسي شعرونه هم لیکل، د دې لپاره چې د هغه شعرونه حماسي و او په شعرونو کې یې د وخت ناخوالې، د خلکو او هیواد درد بیان شوی و، نو د وخت د سیاسي حالاتو او ناخوالو له وجې هیڅ یو سندرغاړی دې ته حاضر نشو څو د هغه شعرونه د سندرو په بڼه ووایي او ارواښاد یې دې ته اړ کړ څو خپل حماسي شعرونه او ترانې د بنې اغیزې په پار په خپل آواز ووایي، چې لومړی ځل یې د افغانستان په ملي راډیو تلویزیون کې د سندرو په بڼه د خپلو لیکل شوو شعرونه ثبت پیل کړ

او تر دې دمه يې څه باندې ۱۴۰ غږيزو او ويډيويي سندرو څخه زياتې ثبت او د افغانستان له ملي راډيو ټلويزيون څخه خپرې شوي چې له دغو حماسي سندرو څخه يوه هغه چې د افغانانو پر ژبه ده ( دا د آزادۍ خاوره) سندره ده.




په هيواد کې د اوږدو کورنيو جګړو په وجه د نورو افغانانو په شان اروابناد عبدالله مقرى هم کډوالۍ ته مجبور کړ چې لومړی کوزې پښتونخوا او بيا متحده عربي اماراتو ته ولاړ. د کډوالي په وخت کى يې شاوخوا ۱۲۰ کسېټونه ثبت کړل چې د خپلې هيوادنۍ مينې تنده به يې وربانديې ماتوله. عبدالله مقري د ژوند، هيواد او افغان ولس ناخوالی، د کډوالۍ ژوند او نورې ترخې شيبې د شعر په ژبه د خپل دردمند زړه د دردونو کمولو او د ملت د راوېښولو او يووالي يوه وسيله بيان کړې.

د دې ترخنګ نوموړي په خپلو ترانو کې د افغانانو د ويښولو او خوځښت په پار داسي چيغې زمزمه کړې چې کولای شي د هغوی لپاره يو لوری وټاکي.

روح يې ښاد او ياد دې تل ژوندی وي.

عبدالله مقري د حماسي او وطني سندرو د ويلو له امله ډېر شهرت ترلاسه کړ. د خپل هنري فعاليت په ترڅ کې يې په سلګونو سندرې ويلي او خپلو مينوالو له پاره يې خپرې کړې دي.

د عبدالله مقري زوی ميرخان ويلي دي چې:

«... مقري صاحب ۶۸ کاله ژوند او شاوخوا ۴۰ کاله يې موسيقي وکړه. د هغه د سندرو مهم پيغام د پښتنو وروګلوي او يووالی وو. پلار به مې اکثره ويل چې پښتنو ته هره ورځ په خپلو سندرو کې نصيحت کوي خو هغوی مې بيا يوازې د يوه ښه سندرغاړي په توګه يادوي."

عبدالله مقری د غزني ولايت د مقر په کوچالو کلي کې زېږېدلی وو. ځوان وو چې کابل ته ولاړ او هم هلته يې زده کړې وکړې او شاعري يې هم کوله خو د مير خان په وينا، هغه مهال کوم سندرغاړي د ده شعر ويلو ته زړه نه ښه کاوه او علت يې دا وو چې په شعر کې يې د وطن خبرې وې...»

دا د هغو شعرونو ځينې بيتونه دي چې عبدالله مقري زمزمه کړې دي:

مرګيه لږي رانه ګرځه
ژبه مې مه تړه وطن پرې يادومه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د افغانستان د موسیقۍ دا وتلي او مشهوره څېره د ۲۰۲۱ ام کال د جون په شلمه نېټه د ورپېښې ناروغۍ له امله وفات شو.

روح يې ښاده

جنت الفردوس يې ځای!

مختصات افغانستان

| اسم یا کلمه | بیوگرافی مختصر | معلومات مکملتر | تخصص | نوع محتوا |
|---|---|---|---|---|
| عبدالله مقری | د زمانو سندر غاړي عبدالله مقری تول عمر د وطن او خلکو د دردونو او تېونو ناری تر خپلو هېوادوالو پوری ورسولی او د خلکو د زړونو د یو رسا غږ په توګه، مستقیم او رسا له خلکو سره د خپل هنر په وسیله ودرید، د شعر او موسیقي په ژبه یی د خلکو او وطن غږ داسی جګ کړ چی په اورېدلو یی د هرچا له سترګو څخه اوښکی بهېدی. دی هم په هېواد کي دننه او هم په بهر کي د یو بلبل په توګه وچغید او د عمر تر پایه له وطن سره د مینی پر هوډ باندی ټینګ ودرېد او له خلکو سره پاتي شو.<br>/ استاد آصف بهاند  | د افغانستان په لوی قاموس کی د نوموتي سندر غاړي عبدالله مقری ژوند لیک | سندرغاړی او شاعر | شعراء، هنرمندان و خدمتگاران |



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ